# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تاسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۵۰ ګڼه / سه شنبه ۲۱ جماديالثاني ١٤٤٥ هـ.ق / ۱۳ جدی ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۳ جنوري ۲۰۲٤ میلادي


## افزایش درعواید شاروالی پلخمری

مسوولان دربغلان، ازافزایش عواید شاروالی پلخمری خبردادند.

این عاید درجریان هشت ماه سال جاری از درک جمع آوری تکس اماکن و مالیات و امور خدمات شهری به شهروندان، به دست آمده است.

به اساس آمارها، شاروالی پلخمری ، درهشت ماه نخست سال جاری هفتاد وشش میلیون افغانی عاید به دست آورده است درحالی که این رقم درهشت ماه نخست سال پار، شصت وشش میلیون افغانی بوده است.

این رقم، ده میلیون افغانی افزایش درعاید شاروالی پلخمری را نشان می دهد.

مولوی عبداللطیف مظلوم شاروال بغلان به آژانس باختر گفت که ثبت وشناسایی سرچشمه های عایداتی و جمع آوری تکس ازآن علت اصلی افزایش در عواید شاروالی پلخمری است.

اوگفت که تلاش دارند با ظرفیت سازی بیشتر، میزان عواید این اداره را بیشتر سازند.

## سرپرست وزارت مالیه؛ این وزارت در حال رسیدن به اهداف تعیین شده خود در جمعآوری عواید است



ملا محمد ناصر آخند، سرپرست وزارت مالیه می گوید: این وزارت در حال رسیدن به اهداف تعیین شده خود در جمعآوری عواید است.

وی این گفته ها را در دیدار با معاون سیاسی ریاست الوزرا بیان داشته است.

دفتر مطبوعاتی معاونیت سیاسی ریاست الوزرا، در خبرنامهیی نوشته است: مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا با ملا محمد ناصر آخند، سرپرست وزارت مالیه دیدار کاری داشته است.

سرپرست وزارت مالیه در کنار ارائه گزارش کاری گفته است: در تمام گمرکات برای مراجعین سهولتهای لازم فراهم شده و وزارت مالیه در حال رسیدن به اهداف تعیین شده خود در جمعآوری عواید است.

او یاد آور شده است که درادارت مرکزی و ولایتی این وزارت، افراد مسلکی گماشته شدهاند و این کار سبب تغییر مثبت در امور مربوط شده است.

در خبرنامه تذکر ... ص۵

## د اطلاعاتو او کلتور وزارت شاعران او ترانه ویونکي وستایل



د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري د هېواد د مشهورو شاعرانو او ترانه ویونکو په ویاړ دوه ورځنی علمي او فرهنګي سېمینار جوړ شوی.

د دې سېمینار په دویمه ورځ د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي ... ۵مخ

## سرپرست وزارت صحت عامه، بهبود عرضه خدمات صحی و بلند بردن کیفیت از اولویت های این وزارت است



سرپرست وزارت صحت عامه، هنگام بازدید از شفاخانه کیور بهبود عرضه خدمات صحی و بلند بردن کیفیت خدمات صحی را از اولویت های آن وزارت عنوان کرد

دفتر مطبوعاتی وزارت صحت عامه دیروز با نشر این خبر گفته است: داکتر قلندر عباد به شفاخانه کیور رفت در کنار بازدید از بخش های مختلف این شفاخانه، نحوۀ عرضه خدمات صحی را در این شفاخانه بررسی نمود و با متخصصان در رابطه به درمان بیماران و چگونگی عرضه خدمات صحی با کیفیت گفتگو کرد

داکتر قلندر عباد سرپرست وزارت صحت عامه، بهبود عرضه خدمات صحی و بلند بردن کیفیت خدمات صحی را از اولویت های کاری آن وزارت عنوان کرده و بر هماهنگی و همکاری مشترک وزارت صحت عامه با شفاخانه های غیر انتفاعی، غرض عرضه خدمات بهتر صحی، تقویت برنامه اکمال تخصص و ارتقای ظرفیت داکتران تاکید کرد

## اعضای کمیته ی تطبیق و نظارت از تعهدات از بنادر اسلام قلعه و دوغارون دیدن کردند



وزارت زراعت آبیاری و مالداری می گوید اعضای کمیته تطبیق و نظارت از تعهدات، از بندر اسلام قلعه در هرات و بندر دوغارون ایران دیدن کردند.

دفتر مطبوعاتی وزارت زراعت آبیاری و مالداری امروز با نشر این خبر گفته است: کمیته تطبیق و نظارت از تعهدات امارت اسلامی افغانستان که به اساس هدایت معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا با عضویت نماینده گان شماری از نهاد حکومتی ... ص۵


دغه کیسه چې ولولی نو ورته به وژاړې!!! ۲ مخ

کمونېزم او د افغاني کمونستانو جنایتونه ۲ مخ

د نوي میلادي کال مبارکي څه حکم لري؟ ۴ مخ


## سرمقاله

## هیڅ ډلی ته د جګړې جواز نه دي پاتې!

تېرو ناخوالو ته په کتو اوس باید ګرد افغان سیاستوال خپل دا نارینتوب وښيي او په ډاګه یې څرګند کړي چې تېره شل کلنه دوره کې د اسلامي امارت دریځ کاملاً برحق، معقول او له انساني، اخلاقی اصولو سره بالکل سم و. د دې دریځ په حقانیت کې څکه څه شک نه و چې ټول افغان ملت یې پوره شل کاله په ډېرو مشکلو حالاتو کې تر شا ولاړ او هر ډول قربانۍ یې ورسره وزغملې او ولې به یې نه زغملې، حال دا چې د پرنګي اشغال یې په سر سترګو لیده، د ملي نوامیسو او مقدساتو د سپکاوي شاهدان وو، په سیاسي، اقتصادي او نظامی ډګر کې د اجیرو افغانانو حقارت او بې وسي ورته معلومه او فساد، فتنو، اخلاقي جرایمو او ټولنیزو ګډوډیو کې د پردیو تشویق، تمویل او تعلیم له هیچا پټ نه و. مطلب دا چې کله ځوک جګړې ته ملاتړي نو د مادي اسبابو ترڅنګ یوې قوي، منطقي او مستدلې داعیې ته یې اړتیا تر هر څه ډېره زیاته وي او همدغه رښتینې داعیه د جګړې د دوام قوت او پرمخ بیولو لپاره صبر او ثبات ورکوي.

په دې اساس موږ ویلي شو چې پورتني اصل ته په کتو نن سبا زموږ هېواد کې د هیڅ کومې سیاسي ډلې، مذهب یا قوم لپاره د جګړې څه رښتینی جواز او معقوله پلمه نشته. البته که څوک په حکومت کې د مقاماتو او مالی منابعو غوښتنې لپاره مبارزه کوي نو په کار ده چې له حکومت سره خبرې اترې ... ۵مخ

## پانزده ساحه دیگر باستانی در جوزجان شناسایی شد



با سروی و بررسی هیئت باستان شناسی وزارت اطلاعات و فرهنگ، ۱۵ ساحه دیگر باستانی در جوزجان شناسایی و ثبت شد.

ذبیح الله سادات رئیس باستان شناسی وزارت اطلاعات و فرهنگ، می گوید: هیئت مسلکی آن ریاست، پس از سروی و بررسی ... ص۵

## ٥٦ مجاهد یک دوره آموزش های نظامی - مسلکی را سپری کردند

وزارت دفاع ملی از فراغت ۵۶ تن از مجاهدین قومندانی تعلیمات مشترک محاربوی حضرت عبدالله ابن مسعود خبر داد.

دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی دیروز با نشر این خبر گفته است: فارغ شدگان منسوبان قطعات وجزوتام های مختلف وزارت دفاع ملی اند که یک دوره دو ماهه آموزش های مسلکی- نظامی را در قومندانی متذکره سپری کردند و با تعهد خدمت به وطن و دفاع از ارزش های نظام اسلامی اسناد فراغت شان را دریافت کردند.

## روان کال کې نږدې ۵۰ سلنه اورښتونه کم شوي



د هوا پېژندې ریاست او د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت په روان لمریز کال کې په هېواد کې د اورښتونو له ۲۵ تر ۴۰ سلنې کموالي خبر ورکوي.

د یاد ریاست رئیس وایي چې په راتلونکو درېو میاشتو کې به د هېواد په شمال، شمال ختیځ، شمال لوېدیځ ختیځ او سویل برخه کې اورښتونه زیات شي. ۵مخ

## د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست د روزګان د اطلاعاتو او کلتور له رئیس سره وکتل

د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست ملا خیر الله خیرخواه په خپل کاري دفتر کې د روزګان د اطلاعاتو او کلتور له رئیس قاري اغاولي قریشي سره وکتل.

د یادې کتنې په پیل کې قاري اغاولي قریشي د خپلو کاري چارو ترسره کړو کړنو راپور ورکولو ترڅنګ په دغه ولایت کې شته ستونزې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له سرپرست سره شریکې کړې او د حل غوښتنه یې وکړه. ورته مهال د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست ملا خیر الله خیرخواه د نوموړي د کړنو او خدمتونو ستاینه وکړه او د ستونزو د حل او همکارۍ ډاډ یې ورکړ.

# دغه کیسه چې ولولی نو ورته به وژاړی!!!



نــو ویــيلولئ اوایمان موپرې تازه کړئ .بلال بن ابي رباح رضي الله عنه د نبوي جومات لومړی موذن دی ، بلال درسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې شاوخوا لس کاله اذان کړی دی ،ډیرو خلکو ته دبلال په اړه همدومره معلومات شته ، کوم معلومات چې له ډیرو خلکو سره نشته هغه داچې بلال درسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته څــه شو ؟ راځــئ نن مې دا معلومات او په دې اړه دبلال دردوونکي او ژړه وونکي کیسه درته راوړي ده ، بلال ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ته ورغی او ورته کړه یې: ای درسول الله ځـای ناستي ( خلیفه ) ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلي دي چې ویل یې : دمومن ترټــولو غوره عمل دالله په لاره کې جهاد کول دي، ابوبکر ورته وویل :بلاله ! ته څــه غواړي ؟ بلال وویل : مانیت کړی دی چې ترمرګــه پوري ژوند په جهادکې تیرکړم ، ابوبکر ورته وویل : موږ ته به اذان څـوک کوي .... ؟ دبلال سترګـي له اوښکو ډکي شوي او زیاته یې کړه : زه له رسول الله وروسته بل چاته اذان نه کوم ، ابوبکر ورته وویل : نه ته به له موږ سره پاته کېــږې اوموږ ته به اذان کوې ... بلال وویل : که تازه داسې ازاد کړی یم چې له ازادي وروسته به هم ستاسره یم ، بیا به ستاپه خوښــه پاته شم اوکه تا زه دخدای له پاره ازاد کړی یم نو ما او هغه ذات سره پریږده چې دهغه له پاره دي زه ازاد کړی یم .

ابوبکر ورته وویل : بلاله ته مایواځــي د الله له پاره ازاد کړی یې . بلال دشام لورته روان شو او هلته په جهاد بوخت شو، دی دځــان په اړه وایې : درسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته ماپه مدینه کې داوسیدلو وس نه لاره . ده به چې کله اذان پیل کړ ، او د ‹ أشهد أن محمدًا رسول الله ‹ جملي ته به ورسیدی ، ستونی به یې غریو بند کړ ... په ژړا به یې پیل وکړ ... نو ځکــه شام ته ولاړ مدینه یې پریښــودله... او ترڅـو کلونو پوري داسلام په لښکر کې دیوه سپیڅلي غازي په توګــه پاته شو ، یو وخت یې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب ولید ، په خوب کې یې بلال ته وویل: بلاله ! دومره جفا؟!! زموږ لیدوته نه راځــي ؟؟ بلال چې راویښ شو غمونو او دردونو کړاوه اوسمدستي دمدیني په لور روان شو ، مدیني تــه په رسیدو درسول الله صلی الله علیه وسلم دقبر مبارک زیارت ته ورغی ، دقبر خواته یې په ژړا زړه سپک کړ . دی لا ناست و چې حسن اوحسین رضی الله عنهما ورته راغلل ، دواړو په خپل وارپه غیږو کې ونیو اوپه یوه بل مخ ښــکل کړ .... او ورته ویې ویل : د سهار اذان به راته کوې، سهار مهال بلال دجومات بام ته وخوت ، او دا عرش لړزوونکي کلمات یې پیل کړل : (الله أکبر الله أکبر) . د بلال تکبیر کړیکو مدینه ټــوله ولړزوله ... کله یې چې : ( أشهد أن لا آله إلا الله ) و ویلې په مدینه کې رسول الله دمینانو د ژړا کړیکي او ساندي پورته شوې .... او چې : ( أشهد أن محمداً رسول الله). یې وویلې د مدیني ښــځي له پردو راووتلي .... په مدینه منوره کې د ژړا او انګــولا دومره شور او زوږ جوړشو چې مخکې هیڅکلــه دومره نارینه او ښــځینه چاپه ژړا نه و لیدلي ... کله چې امیرالمؤمنین عمر رضی الله عنه شام ته ولاړ ، دشام مسلمانانو ورته وویل چې بلال دې یواځــي دیوه لمانځــه له پاره اذان راته وکړي ، امیر المؤمنین بلال د لمانځــه په وخت کې راوغوښــت او هیله یې تري وکړه چې اذان ورته وکړي ، بلال پورته شو او اذان یې وکړ ، د بلال له خولې چې داذان سپیڅلي کلمات وتل دعمر اوبیا دنورو صحابه کرامو د ژړا کړیکي ورسره غبرګــي شوې ناستو صحابه کرامو ټــولو ډیر زیات وژړل.

# جهادي خاطري

# د میوندی ملالی پر قبر

**مولوی حیات الله مهاجر فراهی**



۱۳۹۹/۱۲/۹ لمریز کال

لــه ماشــومتوبه یــې لــه نــوم ســره اشــنا وم، د ښــوونځي پــه کتابونــو کــې یــې هــم نــوم راتــه باربــار تېــر شــوی و، پــه مجلســونو، مشــاعرو او د شــاعرانو پــه ویناوو کــې مــو هــم دا نــوم ډېــر ځلــه تــر غــوږ شــوی و.

لــه وختــه مــې ددې تاریخــي سیمې د لیدلــو ارمــان پــه زړه کې و. بالاخــره د دومــره اوږدې مــودې د انتظــار شــېبې مــو پــای تــه ورسېدې. د جمعــې پــه ســهار اتــه بجــې د هلمنــد د ســنګین لــه ښــارګوټي نــه روان شــوو، مــوږ پنځــه تنــه ملګــري وو، لــه ســنګین نــه مــو یــو بــل ملګــری (مولــوي مبــارک صاحــب) چــې د میونــد ولســوالۍ اســتوګن و او د ســیمې پــه اړه یــې ښــه بلدیــت درلــود هــم راســره ملګــری کــړ.

د شــاوخوا یــو نیــم ســاعت منــزل نــه «د طبــق ســر» ســیمې تــه ورســېدو، دلتــه یــوه وړه هدیــره وه «زمــوږ همســفر مولــوي مبــارک صاحــب راتــه ددې هدیــرې پــه اړه داســې کېســه وکــړل» دې هدېــره کــې کابــو ۳۴ تنــه شــهیدان ښــخ دي، دا د روســانو پــه خــلاف د جهــاد د یــوې ورځــې پــه جګــړه کــې په شــهادت رســېدلي، جنــاب مولــوي مبــارک خپلــو خبــرو تــه دوام ورکــړ: زه لا ماشــوم وم د درې پــه هغــه پورتنــۍ برخــه کــې زمــوږ کورونــه او مېنــې وې. وروســته یــې خپلــو مېنــو تــه ور وســتلم او هغــه ورې ورې ســمڅې راتــه وښــودلې چــې دوی اســتوګنه پکــې کــول ...

یــوه ورځ د غــره د شــا لخــوا روســان را پورتــه شــول څرنګــه چــې د مجاهدینــو ټولــه پاملرنــه د درې شــرقي برخــې او لارې تــه وه او هیڅکلــه یــې داســې نــه انګېــرل چــې دوی دې لــه دې لارې نــه د دښــمن تــر هــدف لانــدې راشــي، کلــه چــې روســان د غــره ســر تــه راخپــژي نــو ورســره هــم مهالــه جــټ الوتکــې هــم رارســېږي چــې ورســره بمبــار او ځمکنــۍ جګــړه شــورع کېــږي. پــه دې جګــړه کــې د مــلا محمــد اخــلاص اخنــد پــه ګــډون (چــې ددې جبهــې قومانــدان هــم و) ۳۴ تنــه پــه شــهادت رســېږي.

زمــوږ لارښــود جنــاب مولــوي مبــارک صاحــب اضافــه کــړه! دې هدیــرې تــه چــې کومــه لاره راغلــې دا د مرحــوم مشــر مــلا صاحــب د واکمنــۍ پــه مهــال جــوړه شــوې او خپلــه مشــر مــلا صاحــب بــه هــم کلــه ناکلــه د دې شــهېدانو مــزار تــه راتلی.

د دې ځــای نــه روان شــوو یــوه وړه هدیــره مــو مخــې تــه راغلــه د دعــا لپــاره ور شــېوه شــوو. زمــوږ لارښــود مولــوي مبــارک صاحــب راتــه کــړه: دې هدیــره کــې دوه شــهیدان پــلار او زوی ښــخ دي، کلــه چــې مــې د قبــر لوحــې ولوســتلې نــو پــلار یــې مــلا ګلســتان شــهید د روســانو ســره پــه جګــړه کــې د ۳۰ کالــو پــه عمــر پــه شــهادت رســېدلی و. پــه داســې حــال کــې چــې زوی یــې ۳۳ کلــن و. د امریکایــي ښــکېلاکګرو ســره پــه جګــړه کــې پــه شــهادت رســېدلی و.

د دې ځــای نــه را روان شــوو او لومــړی د حســن مېمنــدي (مېونــدي بابــا) مــزار تــه ولاړو چــې د میونــد د هدیــرې ســویل خواتــه پــه څــو ســوه مېتــرۍ کــې قــرار لــري او تاریخــي روایــات وایــي چــې د غزنویانــو د واکمنــۍ پــه مهــال د هــرات او بســت حاکــم تېــر شــوی او خــورا لائــق او ځیــرک انســان و چــې ســعدي شــېرازي یــې هــم پــه ګلســتان کــې یادونــه کــړې ده، پــر مــزار یــې ښــه لویــه ګنبــده پــه پخــو خښــتو جوړه شــوې وه. د میونــدي بابــا لــه زیــارت نــه تــر فارغېــدا وروســته د مېونــد د تاریخــي او برخلیــک ټاکونکــې جګــړې د شــهیدانو هدیــرې ته ورغلــو، د هدیــرې ګېــر چاپېــره د پخــو خښــتو دیــوال راګرځول شــوی و، لویــه دروازه یــې هــم لرلــه، دننــه ولاړو، لومــړی کنښېنســتلو، د قــرآن عظیــم الشــان د څــو آیتونــو د تــلاوت نــه وروســته مــو شــهیدانوته دعــا وکــړه.

بیــا مــو د هغــه پرتمېــن دنــګ منــار ننــداره وکــړه چــې د همدې شــهیدانو پــه یــاد دلتــه ابــاد شــوی وو. منــار پــه خــورا مهــارت جــوړ شــوی و، څلــورو خــواوو تــه یــې زینــې ورکــړې وې، منار بانــدې د دې تاریخــي معرکــې د ځېنــو شــهیدانو نومونــه حــک کــړل شــوي و. د اســلامي امــارت د تېــر پېــر: د باندنیــو چــارو وزیــر «مولــوي وکېــل احمــد متــوکل» راتــه وویــل چــې زمــا نیکــه محمــد معشــوق هــم ددې غــزا برخــوال او همدلتــه ښــخ دی.

د مېنــار جــوړ، ســبک، لیکنــو او مضبوطوالــي حیران کــړم چې ګواکــې ۸۷ کالــه وړانــدې مــوږ څومــره ښــه او وطنپــال انجینران لــرل. دلتــه زمــوږ د ســفر ملګــري ښــاغلي مؤمنیــار خپــل پــه خــواږه اواز کــې د میونــد د شــهیدانو پــه یــاد کــې یــوه پــه زړه پــورې ترانــه هــم وړانــدې کــړه.

د مېنــار ختیــځ او شــمال پلــو تــه ښــه ډېــره ځمکــه پــه ډول ډول ونــو پوښــل شــوي وه خــو بدبختانــه چــې د نــه پاملرنــې لاملــه یــې خپلــه طبیعــي ښــکلا لــه لاســه ورکــړې وه. زمــوږ د ســفر لارښــود مولــوي صاحــب هغــه مســجد هــم راتــه پــه ګوتــه کــړ چــې د مشــر مــلا صاحــب پــه امــر همدلتــه جــوړ شــوی و.

ماتــه تــر ټولــو ځورونکــې دا وه چــې د دې تاریخــي معرکــې د اتــل او فاتــح غــازي محمــد ایــوب خــان مــزار مــې دلتــه ونــه لیــد، پــکار خــو دا وه چــې د دې شــهیدانو ترڅنــګ د ده آرامګاه همدلتــه شــتون لــرلای خــو بدبختانــه زمــوږ تاریــخ داســې راغلــی چــې هیڅکلــه مــو د خپــل اتلانــو قدردانــي نــه ده کړې ...

هماغــه غــازي مــو دې تــه اړ کــړ چــې لــه هېــواده ووځــي او بېرتــه د غلیــم پرنګــي پــه لاســونو کــې پربوځــي او اوس یې قبر د لــوی افغانســتان پــه یــوه بېلــه شــوې برخــه پېښــور کــې د یــوه نــوم ورکــي انســان پــه حیــث قــرار لــري.

یــو شــی چــې غــواړم خپــل درانــه هېــوادوال ورتــه متوجــه کــړم، هغــه دا کــه کــوم اهــل خیــر وروڼــه د دې هدېــرې پــه څنــګ کــې یــو دارالحفــاظ ایجــاد کــړي، هــم بــه د دې تاریخــي ســیمې خوندیتــوب یقینــي شــي او هــم بــه د قــرآن په تــلاوت د شــهیدانو روحونــه خــوښ وي.

د دې ځــای لــه لیدلــو وروســته د میونــد د جګــړې د رښــتینې اتلــې، فاتحــې، ځوانــې مرګــې، پېغلــې، شــهېدې ملالــۍ د مــزار خواتــه روان شــوو چــې د عمومــي هدیــرې نــه لــږ ور هاخــوا شــمال لویدیــځ پلــو تــه پــروت و، زمــوږ لارښــود مولــوي مبــارک صاحــب راتــه وویــل: تاســو دلتــه مــزار تــه ورشــئ، زه د کــوم خپــل کــره ورځــم، د غرمــې د ډوډۍ د انتظام ورتــه وایــم.

مــوږ هــم راغلــو، یــوه وړوکــۍ چاردېوالــي وه او پــه لوېدیځــه څنــډه کــې یــې یــوه وړه خونــه وه، چــې همدلتــه د (شــهېدې خــور ارامــګاه وه) خونــې تــه پــه دننــه کېــدا مــې هڅــه وکــړه چــې د قــرآن کریــم څــو آیتونــه تــلاوت کــړم، بــاور وکــړئ مزار ډېــر ژور اغېــز را بانــدې وکــړ، یــو دوه ځلــه هغــه آیتونــه چــې ډېــر شــه مــې پــه یــاد و پکــې خطــا وتلــم، د تــلاوت او دعــا وروســته مــې یــو ناڅاپــه د څــو شــېبو لپــاره پــه ذهــن کــې د جګــړې انځــور ترســیم شــو.

هوکــې د دوشــنبې ورځ د ۱۲۹۷/۸/۱۷ هــق چــې د عیســوی ۱۸۸۰/۷/۲۷ ســره ســمون خــواړه د میونــد پــر ســوځوونکې دښــته یــو خــوا پــه وســلو ســمبال پرنګــي لښــکر، بلخــوا پــه تــش لاس خــو د ایمــان، عقیــدې او وطــن پــه مینــه سرشــار افغانــي غازیــان و، جګــړه پیــل شــوه پــه لومړیــو کــې پرنګــي ځــواک د جګــړې پــر ډګــر لاس بــری برېښــېده، افغانــي لــوری د وســائلو او وســلو لــه کمبــود ســره مــخ و د ځوانانــو ککــرۍ لــه تنــو بېلېدلــې، بیــا هــم افغانــي غازیانــو هڅــه کړلــه چــې د خپــل ځوانانــو روحیــه لــوړه وســاتي پــه دې منــځ کــې یــو بــل ګــوزار هــم پــر افغانــي لــوري وشــو «بیرغچــې یــې ژوبل شــو» او تــوغ یــې لــه لاس ولوېــد!.

یــوې پېغلــې چــې عمــر یــې ابلــه د اتلــس کلونــو پــه شــاوخوا کــې و او د جګــړې ډګــر تــه یــې څېرمــه لــه خپلــې کېــږدۍ نــه دا حالــت لــه نــږدې څــاره د دې، وضعیــت لیــدل یــې تــر زغمــه ووتــل، لــه خپلــې کېــږدۍ نــه را ووتلــه او ســیده یــې د بیــرغ لورتــه را ودانګــل، بیــرغ یــې لــه ځمکــې راپورتــه کــړ او پــه لــوړ اواز یــې دا چېغــه پورتــه کــړه:

**کــه پــه مــیــونــد کې شــهــیــد نه شــوې**
**خدای ږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه**

دې چېغــې پــر افغانــي غازیانــو دومــره اغېــز وکــړ چــې د مقاومــت یــوه نــوې روح پکــې ننوتــل او لــه ســره یــې خپــل صفونــه منظــم کــړل، پــر مېرڅــې یــې یرغــل ور وړ، د دښــمن لیکــې یــې ماتــې کړلــې او ســمدم قیامــت یــې پــرې جــوړ کــړ، یــو څــو شــېبې وروســته بیــا پېغلــې یــوه بلــه نــاره وکــړه:

**خـــال بـــه دیـــار لـــه وینـــو کېـــږدم**
**چې شین کې باغ کې ګل ګلاب وشرموینه**

د دې ږغ پــه اورېدلــو د ســتومانو او تــږو غازیانــو پــه رګونــو کــې د دیــن، وطــن او انتقــام جذبــې نــور هــم زور واخیســت، غلیــم یــې مــات کــړ، تعقیــب یــې کــړ، پــه ســلګونو انګلیســان یــې تــر تېــغ تېــر کــړل او غنیمتونــه یــې تــرې ونیــول. پــه دې جګــړه کــې یــوه بلــه مېرمــن هــم د ملایــې ســره ملــه وه هغــه غــازي ســرداره نومېــدل.

پــه دې توګــه ددې مېرمنــې همــت د جګــړې لــوری بــدل کړ او دا پېغلــه خپلــه هــم په شــهادت ورســېدله.

بــاور وکــړئ هاغــه انځــور مــې پــه ذهــن کــې پورتــه کښــته کېــدی، دا ســوځنده بېدیــا، افغانــي تــش لاســی لښــکر او د دې پېغلــې عــزم د دې معصومیــت او د شــهادت حالــت ســخت یــې اغېزمــن کــړم. پــه هــر حــال بیــا مــې زړه تــه پــه دې تســلي ورکولــه چــې دادی یــوه نېمــه پېړۍ وروســته مــوږ د دې اتلانــو تاریــخ تــازه کــړ. د نیمــې نــړۍ پــه خــلاف پــه خالــي لاس وجنګېدلــو او دا دی غلیــم نــور ګونــډه وهلــې او د تېښــتې پــه حالــت کــې قــرار لــري.

پــه داســې حــال کــې مــو د اتلــې ملالــۍ خــور لــه زیارتــه د روانېدلــو هــوډ وکــړ چــې لا مــو هــم دې شــهیدې ځوانــې مرګــې پېغلــې تــه د دعــا کلمــات پــر خولــه جــاري و.

لږورهــا خــوا ســویل پلــو یــوه نــوې دنګــه ګنبــده پــه نــا بشــپړ حالــت کــې ولاړه وه چــې زمــوږ د ســفر لارښــود «مولــوی مبــارک صاحــب» هغــې تــه هــم ور وســتلو او راتــه کــړل یــې چــې دا د ملالــۍ د شــهادت ځــای دی.

پــه همــدې ســیمه کــې مــو پــه یــوه بلــه هدیــره کــې څلــور څنــګ پــه څنــګ قبرونــه ولیــدل، راتــه وویــل شــو چــې دا شــهیدان څلــور واړه وروڼــه و یــو پکــې مولــوي، بــل یــې د قرآن کریــم حافــظ او دوه نــور یــې د کتابونــو زده کوونکــي و. دې ســیمې تــه د خارجــي یرغلګــرو چابــه راغلــې وه. دا څلــور واړه وروڼــه یــې پــه ډېــر وحشــت پــه خپــل کــور کــې پــه شــهادت ورســول او پــلار یــې همــدا څلــور ځامــن لــرل. ورځ مــو ډېــره مصروفــه تېــره کــړل.

ټــول ځایونــه مــو پــه ښــه تســلي وکتــل او مازدېګــر ۴ بجــې بېرتــه د دوزخ د درې (ســنګین) پــه لــور راوخوځېدلــو.

# کمونیزم او د افغاني کمونستانو جنایتونه

مولوي عبدالهادي (مجاهد) - وروستی برخه



ما ته یو وخت په پېښور کې د لغمان د ولایت د مرکز اړوند د (برې دوپی د ملایانو) د کلي اوسېدونکي یوه مجاهد قومندان قدرت الله چې په پاچا مشهور و د روسانو د ظلمونو یوه پخپلو سترګو لیدلې واقعه داسې بیان کړه: (( یوځل د (شلټک) سیمې ته د روسانو قوه راغله، موږ ورسره په جنګ بوخت شوو، وروسته نور روسان هم د هغوی مرستې ته راغلل، موږ غره ته وختو ، دوی هلته هم راپسې راغلل، خو ماتې یې وخوړه او بېرته کلي ته پر شا شول. څه کسان یې هم وژل شوي ول، په جنګ کې تر ماتې خوړلو وروسته کلي ته ور وګرځېدل او هلته یې بد حال پیل کړ، زښت ډېر فیرونه یې وکړل او له کلي لوګي پورته شول او یوساعت وروسته له هغه ځایه هم لاړل.

موږ ورځ او شپه په غره کې تېره کړه، څه کسان مو شهیدان او زخمیان شوي وو، کله چې سهار شو غوښتل مو له کلي څخه څو کټونه راوړو او له غره څخه خپل زخمیان او شهیدان راکښته کړو، زه له ځینو نورو مجاهدینو سره له غره راکښته شوم، خو کله چې کلي ته راغلم هېڅوک مې پیدا نه کړل. پر لاره کې مې یو کس د غنمو په کرونده کې ولید، چې په زخمي حالت کې پروت و او زګیروي یې ختل، پوښتنه مې ترې وکړه چې څه حال دی؟

ځواب یې راکړ چې خبر نه یم، په کلي کې پوښتنه وکړه. کلي ته چې ورغلم او کورونه مې وکتل هېڅوک ورکې نه ښکارېدل. په هغه وخت کې عادت داسې وو چې کله به روسان کوم کلي ته ورغلل نو ټول ماشومان او ښځې به له وېرې د کوم سپین ږیري او یا سپین سرې په کور کې سره راټول شول تر څو یې هم یو پر بل زړه ډاډه وي او هم د روسانو له لوري له بې عزتۍ وراړولو په امن وي. روسانو به په هغو وختو کې د کلي د خلکو تورسرو ته بې عزتۍ هم ور اړولې. موږ همداسې په کلي کې روان وو تر دې چې یو کور ته ورننژدې شوو او د سوځېدلو او پخو شویو غوښو بوی مو تر پوزې شو. کور ته ورننوتو چې کتل مو د کلي ماشومان، ښځې او سپینږیري چې د همدې کور په لومړي منزل کې سره راټول شوي ول لومړی روسانو وژلي او بیا یې کور ته اور هم وراچولی و. د کور تر سوځېدلو وروسته ټول انسانان همدلته پاخه شوي وو او دوهم چت هم ورباندې له پاسه راغورځېدلی و. له نورو مجاهدینو سره به مو چې له جسدونو خاورې اړولې او د کوم چا لاس یا پښه به مو چې پیدا کړل نو چې راکش به مو کړل هغه به پاخه شوي وو، د لاس یا پښې هډوکی به یې راووت او نور به هلته ښخ پاتې شو. هېڅ د راوېستلو امکان یې نه وو، همداسې مو پر ټولو کسانو د کور دیوالونه راونړول او همدلته مو د یوه اجتماعي قبر په حیث تر خاورو لاندې کړل چې شمېریې ۷۳ کسان وو)).

د ۱۳۶۴ کال د حمل په ۲۵ مه نېټه د لغمان د قرغیو ولسوالۍ ته روسان او ورسره کمونستان ورغلل او په یوه ورځ یې درې زره کسان ووژل. د دې درې زرو کسانو جنازې په یوه ورځ پرتې وې چې د ښخولو یې څوک نه وو.روسانو او کمونستانو دې ته ورته لوی لوی جنایات د هېواد په مختلفو نورو ولایتونو کې هم ترسره کړل. دا ټول ظلمونه یې په دې نیت ترسره کړل که ګوندې دا ولس به له جهاده لاس واخلي، د دوی خبره به ومني، دوی به دا هېواد تسخیر کړي او دلته به د دوی عقاید او نظریات عملي شي او بیا به له دې لارې تودو اوبو او د خلیج تېلو ته لاره پیدا کړي.دې جنایاتو دومره زور واخیست، چې نور یې خلکو زغم نه درلود. خلکو خپل فصلونه، زراعتونه، کورونه او دارایۍ پرېښودې او مهاجر شول. د ۵ میلیونو په شاخوا کې خلک مهاجر شول چې څوک یې پاکستان ته لاړل، چا د ایران لاره ونیوه، څوک سعودي ته کډه شول او څوک د نړۍ نورو هېوادونو حتی اروپا او امریکا ته کډوال شول. روسانو او کمونستانو یو بل ستر جنایت هم تر سره کړ او هغه دا چې د دې لپاره چې مجاهدین په کلیو، باندو، لارو او سیمو کې ګشت او ګذر ونه کړای شي په هېواد کې یې په میلیونونو بمونه وکرل او یا یې له هوا وشیندل چې لا تر اوسه له خلکو قرباني اخلي. دغو بمونو د لکونو افغانانو ژوند واخیست او لکونه نور یې بې پښو، بې لاسو، بې بینایۍ او په بېلابېل ډول معیوب کړل.

له کمونستانو سره د ځینو جهادي تنظیمونو د ائتلافونو لوی جنا یت :

د کمونستانو د ټولو جنایاتو له تر سره کېدلو سره سره د افغانانو جهاد متوقف نه شو، بلکې لا یې زور واخیست، چې په نتیجه کې یې لومړی سرحداتو، وروسته ولسوالیو او ورپسې ولایتونو یو په بل پسې سقوط وکړ چې له ۱۴ کاله قربانیو او جهادونو وروسته یې روسان او کمونستان له هېواده وشړل او دا خاوره یې د دوی له حاکمیته پاکه کړه، خو متاسفانه چې له دې ټولو جهادونو او قربانیو وروسته هم افغانان د یوه صالح اسلامي حکومت خاوندان نه شول او د دې پرځای چې فاتحین یو اسلامي نظام قائم کړي په خپلو کې سره د حکومت پر سر په جنګونو کې لتاړ شول او بېرته یې یو د بل په خلاف په مختلفو بهانو، قناعتونو او دلیلونو له کمونستانو او بېلابېلو نورو ډلو سره ائتلافونه وکړل او پخواني کمونستان، د پخواني پوځ جنرالان، ملیشې، لوړ پوړي چارواکي، افسران او سیاستمداران یې د هغوی په خلاف له اوږدې جګړې وروسته بېرته د خپل ځان ملګري کړل.

کله چې کمونستانو سقوط وکړ په هغه وخت کې افغانستان ۴۰۰ جنګي، ترانسپورتي، جیټ او کشفي طیارې او په زرګونو ټانکونه، توپونه او پوځي نقلیه وسایط درلودل. دا ټولې طیارې او نور وسایط یا دې تنظیمونو په خپلمنځي جګړو کې له منځه یوړل او له کاره ولوېدل او یا د هغه وخت د قومندانانو لخوا ټوټه او بیا پر نورو هېوادونو د کباړ په بیه خرڅ شول. د ټانکونو او نورو وسایلو په میلیونونو ټنه اوسپنه په قاچاقي توګه نورو هېوادونو ته یووړل شوه او په ناچیزه قیمت خرڅه شوه. دا هغه جنایات ول چې د مجاهدینو تر نامه لاندې خودخواهو او نفس پرسته تنظیمیانو تر سره کړل، نو ځکه خو الله تعالی هم له دې افتخاره محروم کړل چې د دوی په لاس دې اسلامي نظام قایم شي.الله تعالی په دنیا دا سزا ورکړه چې نن یې د کفر په صف کې ودرول او دا دی اوس د هغو مسلمانانو په خلاف جنګېږي چې مخکې به یې ورڅخه د دفاع نارې وهلې. اوس کافر ماتې خوري او ځي، خو دوی ورپسې چیغې وهي چې مه ځئ! موږ چاته پرېږدئ؟!.

کمونستان تر خپلې ماتې وروسته بېرته په ډېر ماهرانه شکل یا په ځیني تنظیمونو کې ورداخل شول او یا غرب ته لاړل، هلته یې له غربیانو سره کار پیل کړ، هغوی هم بېرته له ځان سره راوستل او د وزیر، مشاور، د مؤسسې د مشر او په نورو نومونو یې دلته په کار وګمارل او بیا یې پر دې مظلوم ولس مسلط کړل.

کمونستان د دې هېواد د ټولو هغو جنایاتو، قتلونو او ورانیو مسؤولین او پیل کوونکي دي چې د دوی له واکمنېدو وروسته وشول، ځکه همدا کمونستان وو چې د روسانو په ملاتړ او امر یې افغانستان له تباهۍ سره مخ کړ تر څو روسانو ته دا فرصت برابر کړي چې له دې لارې د هند سمندر تودو اوبو، د خلیج تېلو او له غرب سره د ټکر د جبهې جوړلو ته لاره پیدا کړي.

کمونستان تر خپلې ماتې وروسته که په سیاسي او حکومتي لحاظ له منځه ولاړل، خو لا تر اوسه هم په فکري لحاظ پاتې دي. موږ په تېر جهاد کې د دعوت، تربیې، فکر جوړلو او د عقیدې د سمولو جانب ته ډېره توجه نه وه کړې او یوازې مو پر نامنظم عسکري عمل اکتفا کړې وه. موږ بې له چاولو او اسلامي روزنې هر ډول خلک د جګړې لپاره مسلح کړي وو، تر دې چې په ځیني التقاطي تنظیمونو کې به چې کله د کومې جبهې د لګښتونو پیسې ورکول کېدې،نو د چرسو لګښت به هم ورکول کېده. نتیجه یې دا شوه چې هم جهادي صف بدنام شو او هم اهداف تر لاسه نه شول.

کمونستانو له موږ څخه له بلې لارې خپل انتقام واخیست، د شهیدانو، کونډو، یتیمانو او ټول مجاهد ولس ارمانونه مو نیمګړي پاتې شول. په عسکري لحاظ کمونستان له منځه ولاړل، خو په عقیدوي او فکري لحاظ موږ کمونستان مسلمان نه کړای شول. تر اوسه داسې پېښ نه شول چې کوم کمونیست دې علني توبه وېستلې وي او ویلي دې وي چې پرون زه د کمونیزم د منلو له امله کافر وم او اوس مسلمان شوم. هغوی پرون یو ډول کافر ول او د یو ډول یرغلګر کافر خوا یې نیولې وه، نن بل ډول کافر دي او د بل ډول یرغلګرو کافرو ملګري دي. پرون یې روسان راوغوښتل او دا وطن یې ورباندې وران کړ، نن یې اورپایان او امریکایان راوغوښتل او دا وطن ور باندې ورانوه.

که اوسني مجاهدین (طالبان) بیا هم د پخوانیو تنظیمونو غلطي تکرار کړي او د (ولاء او براء) د عقیدې مطابق عمل ونه کړي، نو کېدی شي چې الله تعالی مه کړه دوی به هم د پخوانیو تنظیمونو په برخلیک اخته شي او همداسې لکه نن چې پروني مجاهدین د بل کفر تر څنګ ولاړ دي، دوی به هم بېرته له هغه چا سره یوځای کېږي چې په کلونو کلونو ورسره جنګېدلي دي.

پکار ده چې مجاهدین له اوسني دښمن سره د اسلام مطابق چلند وکړي، لومړی دعوت ورکړي، منطق ته یې ور وبولي، شبهات یې ورحل کړي او که راونه ګرځېدل،نو هغه چې د نفاق حد ته رسېدلي منافقین دې وبلل شي، هغه چې د ارتداد حد ته رسېدلي هغوی ته د مرتدینو په سترګه وکتل شي او هغه چې تېروتي او د نافهمۍ له امله له دښمن سره یو ځای شوي هغوی دې وپوهول شي او د دښمن له صفه دې د راوتلو فرصتونه دې په لاس ورکړل شي او هغه چې دعوت نه مني د دښمن په نظر دې ورته وکتل شي،خو د هغوی له اولادونو سره دې مهرباني وشي، کتاب دې په لاس کې ورکول شي، د اصلاح او اسلامي تربیې امکانات دې ورته برابر شي، تر څو په فکري او عقیدوي لحاظ په پلرونو پسې ولاړ نه شي. دا ټول یوازې په ټوپک نه کېږي، بلکې په جهادي صف کې دې د ټوپک د شرعي استعمال تر څنګ دعوت، علم، فکر او د قناعت ورکولو ورتیاوې تقویه شي.

کمونستانو د خپل حاکمیت په وخت کې په ډېرې بې رحمۍ په بېلا بېلو ډولونو افغانان ووژل. په لاندې لړ کې د ځینې هغو سیاسي او جنایي قتلونو یادونه شوي چې د کمونستانو د رژیم په دوران کې ترسره شوي دي:

۱۳۵۷، حوت، ۲۴ مه: په هرات کې د ولسي پاڅون د ځپلو په ترڅ کې د ۲۴ زره مسلمانو هېوادوالو ډله ییزه وژنه.

۱۳۵۸، عقرب، ۳مه: په داخله وزارت کې د ۱۲ زره وژلو شویو هېوادوالو د لست څرول.

۱۳۶۴، حمل، ۲۵: په لغمان قرغه یو کې د درې زره بې ګناه هېوادوالو ویرجن ډله ییز شهادت.

۱۳۵۸: په پوځ کې د کودتا په تور د ۲۰۰۰ مسلمانو صاحب منصبانو ډله ییز اعدامونه.

۱۳۵۸، حمل، ۳۱ مه: د کونړ په کېراله کې د تر ۱۰۰۰ ډېرو هېوادوالو ډله ییز شهادت.

۱۳۶۴، حمل، ۶ مه: په کندز کې د ۹۰۰ مسلمانو هېوادوالو ډله ییز شهادت.

۱۳۵۹، اسد، ۲مه: د میدان وردګو په چک او سید آباد ولسوالیو کې د تر ۸۰۰ څخه د ډېرو مسلمانو هېوادوالو ډله ییز شهادت.

۱۳۵۸، جدي، ۲۵مه: د کندز په چهاردره کې د ۷۵۰ هېوادوالو ډله ییزه وژنه.

۱۳۵۸، دلوه، ۱۶مه: د کندز په امام صاحب کې د ۷۰۰هېوادوالو ډله ییز شهادت.

۱۳۵۸، سنبله، ۱۵مه: د لغمان علیشنګ په قلعه نجیل کې د ۶۵۰ هېوادوالو ډله ییزه وژنه.

۱۳۶۴: د میدان وردګو ولایت په نرخ او میدان کې د درې برېدونو په اوږدو کې د ۶۰۰ هېوادوالو ډله ییزه وژنه.

۱۳۶۳، حوت، ۲۲ مه: په قره باغ او شکردره کې د ۵۰۰ هېوادوالو ډله ییزه وژنه.

۱۳۶۳، دلوه: د کندز په چهاردره کې د ۴۲۵ هېوادوالو ډله ییزه وژنه

۱۳۵۸، دلوه، ۲۱مه: په دشت ارچي کې د ۲۵۰ هېوادواله ډله ییزه وژنه.

۱۳۶۲، قوس، ۱۸مه: په غزني کې د ۲۵۰هېوادوالو ډله ییزه وژنه.

۱۳۵۹، جدي، ۱۹مه: په خان اباد کې د ۲۰۰هېوادوالو ډله ییزه وژنه.

۱۳۵۷، د روژې میاشت: په بګرام هوایي ډګر کې د ۲۰۰ صاحب منصبانو ډله ییزه وژنه.

۱۳۵۹، جدي: پر خان آباد د هاوان فیرونو په واسطه د ۲۰۰ څخه د ډېرو هېوادوالو ټپي کول او شهیدانول.

۱۳۶۳، سنبله، ۲۸مه: په بغلان کې د بمبارد له امله د ۱۵۰ ځایي اوسېدونکو شهیدانول.

۱۳۵۸، جوزا، ۸ مه: د پوهاند غلام محمد نیازي، انجنیر سیف الدین نصرتیار او استاد غلام رباني عطیش په شمول د اسلامي نهضت د ۱۳۵ غړیو شهادت.

۱۳۵۷، حوت: د خوست په ۲۵مه فرقه کې د ۱۳۳ صاحبمنصبانو ډله ییزه وژنه.

۱۳۵۸، جوزا، ۸مه: د څرخي پله په زندان کې د اسلامي نهضت د ۱۱۷ غړیو شهادت.

۱۳۶۳، دلوه، ۱۰مه: په ننګرهار کې د ۸۰ مسلمانو هېوادوالو ډله ییز شهادت.

۱۳۶۳، سنبله، ۲۱مه: په نورستان کې د ۶۷ هېوادوالو شهادت.

۱۳۵۸، جوزا، ۱۴مه: په څرخي پله زندان کې د غازي سید اکبر په مشرۍ د اسلامي نهضت د ۴۵ غړیو شهادت.

۱۳۶۱، جدي، ۲۵مه: په هرات کې د ۴۰ هېوادوالو ډله ییز شهادت.

۱۳۵۹، ثور، ۹مه: په کابل کې د خویندو د پاڅون په ترڅ کې د درېو خویندو هرې یوې ناهید، وجیبه او جمیله په ګډون د تاریخ تر ټولو مظلومانه شهادت.

# د اسلامي نامتو مجاهد داعی واعظ او رباني عالم علامه ابوالحسن علی الندوی لنډه پیژندنه:

**ابوبکر کندهاري**

د اسلامي نامتو مجاهد داعی واعظ او رباني عالم علامه ابوالحسن علی الندوی لنډه پیژندنه:

نوم: ابوالحسن علی الندوي.

والدین:

عبدالحي او مور یی خیر النساء نومیږی.

په کال ۱۹۱٤ کال کی زیږیدلی دي.

په کال ۱۹۹۹ د روژی میاشتی په درویشتمه نیټه د جمعي ورځ په مسجد کی پداسی حال کی روح د رب دربار ته وسپاری چې په جومات کی معتکف و.

قرآن یی په خپل کور کی حفظ کړ کله چې په ۱۰ کلنی کی پلار وفات سو نو د خپلو اکاګانو څخه علم لاسته راوړ.

په ۱۹۲۷ کی دلکهنو په پوهنتون کی د عربی ژبي د آدب په پوهنځی کی داخله واخیستل, د عربی تر څنګ یی د اردو ژبی مطالعه هم شروع کړه پدي ترڅ کی یی اسلامی تاریخ وواېه او د اسلام دین د خدمت په فکر کی سوو او په انګلیسی هم دومره پوهیدی چې مطالعه په وکړی.

لومړی کتاب یی سیرة سید احمد شهید وو چې هندي اردو ژبه کی لیکل سوي وه.

الندی رحمه الله د زیاتو هېوادو سفر هم کړي دی چې عربستان ,سوریه, غرب...

په عربستان کی د خلکو د تود هرکلی سره مخ سو او د خپل کتاب ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین؟ باندی مشهور سوي وو او د خلکو په ذهنو یی منګولي لګولي وي.

په سوریه کی د مصطفی السباعی, شیخ احمد کفتارو...

په عربی نړۍ کی یي له نورو اسلامی مفکرینو سره هم ولیدل لکه: سید قطب, د شهید شیخ حسن البناء پلار عبدالرحمن البناء...

دي چې به هر کله کوم ځای ته تلی د ځان سره یی یاداشتونه هم نیول چې د بیت المقدس ملاقات یی د روژی په میاشت کی وکړ او د مذکرات سائح فی الشرق الاوسط په نامه یو کوچني کتاب ولیکی.

کله چې د افغانستان,ایران, لبنان... سیمو څخه لیدنه وکړه د من نهر کابل الی نهر الیرموک په نوم کتاب ولیکه.

نوموړی ته زیاتی خدمتی جایزی هم ورکړل سوي وی او د اکسفورډ د اسلامیاتو له څانګی هم ستاینلیک ورکړل سوي و.

تر ٤٥ زیات تالیفات لری لکه:

ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین.

قصص النبین.

قرائه الراشده.

بین الدین والمدینه.

رجال الفکر والدعوة في الاسلام.

العقیدة و العبادة والسلوک.

ځینی تالیفات یی پښتو ته هم ژباړل سوي دی او اکثره د تکره ژباړن سید فضل مولی لخوا سوي دی چې عبارت دی:

پر بشری نړۍ د مسلمانانو د لوړتیا او ځوړتیا بشپړ اغیز.

د ایمان او معادیت معرکه.

د رسول الله صلی علیه وسلم سیرت.

د حضرت علي سیرت, شخصیت او زمانی.

مذهب او تمدن.

لویدیځ ته خطاب.

دده او سید قطب فکرونه تقریبا سره ورته دی ځکه دواړه یوازی د اسلام څخه دفاع نه بلکی پر غرب کلک ګوزارونه کوي.

د الندوی مشهوره وینا:

غربیانو په هوا کی د مرغانو په توګه الوتل زده کړه, په سمندر کی د ماهیانو په څیر آب بازي زده کړه خو په مځکه کی یی د انسانانو په څیر تګ نه کړ زده.

دده په اړه شهید سید قطب وایی: ابوالحسن ندوی می د هغه د شخصیت او د قلم له لاري پیژندلی, ما په ده کی د مسلمان زړه او عقل لیدلی, دا هغه څوک دی, چې د اسلام لپاره د اسلام تر سیوري لاندی ژوند کوي دا وه هغه څه چې ما باید ویلی واي.

دوکتور سباعی وایی: علامه ندوی په خپلو لیکنو او دعوت, اسلام ته یوه لویه خزانه پریښودل, دی په خپل علمی دقت د شریعت په اسرارو پوه سوی او د اسلامي مشکلاتو دقیقه څیړنه یی کړې او مناسب حل یي ورته ویستی.

عبدالله الترکي دده پر مړینی وویل: ندوي یوه فکری مدرسه وه, چې اسلامی نړی له لاسه ورکړه.

# مطبوعات دیوه ملک د فرهنګي، اقتصادي، سیاسي، او تاریخي فعالیتونو څرګنده هینداره

**حیات الله حلیم**



د اهمیت اومهمیت له کبله مطبوعات په نړۍ کې اوس د څلورمې قوې په توګه پیژندل شوي حق هم داسې دی ځکه مطبوعات دي چې یوملک په فرهنګي ، سیاسي ، اقتصادي اوادبي برخوکې نوروملکونوته ورپیژني .

په افغانستان کې مطبوعاتي فعالیتونه د نورې نړۍ په څېریوه نیمه پېړۍ اوږده مخینه لري چې دزمانې په تیرېدوسره یې خپل د ودې اوپرمختګ پړاوونه د زیاتوستونزوپه غېږه کې یوپربل پسې ترپښوکړي .

په نړۍ کې د لیک ترپیدایښت وروسته په لیکلي ډول د اطلاعاتو رسول پیل شول ، بیا وروسته په ځینو هېوادونوکې قلمي جریدې اونشریې دود شو ، کله چې د چاپ سیستم اختراع شونومطبوعاتي فعالیتونو وده وکړه اود نړۍ په ګڼوهېوادونوکې یوپربل پسې خپرونې را منځ ته شوې ، جریدې او مجلې چاپ شوې اود مطبوعاتودسمون اوکنترول لپاره منظمې اوځانګړې اداري جوړې شوې چې په ترځ کې یې مطبوعاتوهم د خلکود خبرتیا په برخه کې داسې په زړه پورې رول ولوباوه چې لویې ، لویې ملي اداري ورته جوړې شوې ، زموږ په هېواد کې مطبوعات تر ۱۸۷۰زیږدیزکال وروسته د امیرشیرعلي خان په وخت کې د شمس النهاردجریدې په خپرېدلوسره پیل شول چې په ۱۸۷۸ کال د انګریزانو ددوهم تیري پرمهال ناڅاپه د اخباراوکتابونوخپرېدل بند اومطبعې ویجاړې شوې په ۱۹۰۶کال کې د سراج الاخبار خپرېدل یوداسې څرک وچې له لومړی ګڼې وروسته د انګریزانو په نیغه لاسوهنه توقیف او خپریدل یې بند شول ، د امان الله خان د واکمنۍ په مهال په ټول هېواد کې تر شل زیاتې مجلې جریدې او ورځپاڼې خپریدې چې کومه مستقله دولتي اداره یې نه درلوده او هرې خپرونې به په خپله خپل کار کاوه . په ۱۹۲۰ کال د امان افغان چلوونکي، سید قاسم رشتیا وټاکل شواوشپږ کاله یې دا جریده وچلوله ، په دغه دوران کې دده له نامه سره د مطبوعاتود رییس کلمه هم ولیکل شوه او دا ښیې چې دولت غو ښتل د افغانستان د مطبوعاتود ادرې لپاره یوه ځانګړې او مستقله اداره جوړه کړي او داهم ښيې چې ددغه ریاست لپاره ارواښاد سید قاسم رشتیا ټاکل شوی و خو له اوږده لټون سره سره دده د ریاست د زمانې ترسره شوې فعالیتونه ونه موندل شول اوداښيي چې دا اداره یوازې د کاغذ پرمخ پاته شوې وه ، همدا وجه وه چې څه وخت وروسته د مطبوعاتو د ریاست دا جمله « دامان افغان» د جریدې د (مدیر) له څنګ نه لیرې شوه خو له اوږدې مودې وروسته په افغانستان د مطبوعاتو فعالیت په ریښتني توګه مخ په ځلېدوشو ځکه ګڼې جریدې ورځپاڼې مجلې چاپ شوې د (اصلاح) ورځپاڼه را منځ ته شوه، انیس بیرته خپورشو، د اقتصاد ، کابل ، حی الفلاح ، سالنامه کابل اونورې خپرونې را ووتې په ۱۳۲۸ کال د هېواد ورځپاڼه پر فعالیت پیل وکړ، خو بیا هم هرې خپرونې خپله ځانګړی مطبوعاتي سیاست او اداره درلوده ، همداراز دولایتونو چاپي خپرونوهم مرکزته ورته بڼه درلوده ، د هرات اتفاق اسلام ، دقندهارطلوع افغان ، د ننګرهاراتحاد مشرقي ، د مزارشریف بیدار، خپرونې له خپلو ولایتونو سره ترلې اوپه خپلو پالیسیو خپرېدلې .

د مطبوعاتو د ګډوډۍ د مخنیوي لپاره او ددې لپاره چې خورې ورې خپرونې تر یوه واحد اومتحد چترلاندې راوستل شي د ۱۳۱۸ کال د مرغومي د میاشت په ۱۵ نیټه د کابل د ادبي انجمن پربنیاد د مطبوعاتود ریاست خښته کښیودل شوه ، چې رییس یې ارواښاد علامه صلاح الدین سلجوقي اومرستیال یې علامه عبد الحی حبیبی اوسلاکاریې ارواښاد ملک الشعرا قاری عبد الله خان وټاکل شول او د خپرونو عمومي مدیریت ، د آژانس مدیریت ، د پښتو ټولنې عمومي مدیریت ، دتاریخ مدیریت ، د صحافت مدیریت اود درادیود اداري په نوم تشکیلات یې درلودل چې هرمدیریت ځانګړې وظیفې درلودې اوټولوبه په ګډه د خپل منځي مهال ویش له مخې کارکاوه اوپه دې توګه د مرکز او ولایتونو ټول مطبوعاتي فعالیتونه ترېوې متحدې اداري لاندې را غلل ، د نشراتو ریاست دخپرونو د لاښه والي پراختیا او پرمختیا لپاره د مرکز او ولایتونو خپرونو ته لایحې جوړې کړې ، سرمقالې اونورمضامین به یې ورته تهیه کول د نظمي اونثري خپرونولارې چارې به یې ورښودې د ورځپاڼو د لمنو لپاره به یې ناولونه ژبا ړل او د ولایتونو جریدو ته به یې لازمې لارښوونې لیږلې ، له مطبوعاتو سره د همکارۍ لپاره یې لیکوالان وهڅول ، د مطبوعاتي همکارانو لپاره یې د کلنیو جایزو ټاکل په پام کې ونیول ، داملا او انشا د سمون لپاره یې د تنفیذ د اصولوکتابچې خپرې کړې او په دې توګه یې په مرکز او ولایتونو کې مطبوعات په یو لاس اداره کول دا وخت ترنورومدیریتونوترڅنګ د آژانس د مدیریت رول او فعالیت ځکه لوړ و چې له بهرنۍ نړۍ سره د خبرونو د تبادلې دوه اړخیز ترونونه درلودل چې د افغانستان خبرونه به هغوی ته رسول او له هغوی نه به یې هم لازم خبرونه تر لاسه کول چې لومړی به په اخبارکې خپرېدل او وروسته به رادیو ته تلل اوهلته به خپرېدل ، دمطبوعاتو ریاست ورو ورو پراختیا وموندله اود دایرة المعارف پروژه پرې ورزیاته شوه ترڅوپه ۱۳۴۲ کال د مطبوعاتو ریاست د ( اطلاعات کلتور) په نوم وزارت ته ارتقا وکړه اوپه دې توګه تر ۱۳۸۰ کال پورې په افغانستان کې تقریبا ټولورسنیو په دولتي سکتورکې فعالیت درلود او ددولت سیاست به یې تمثیلاوه خودتیرجمهوریت په دوران کې ددولتي سکتورترڅنګ په خصوصي سکتورکې هم داسې رسنۍ فعالیت ته شاملې شوې چې شمیره یې په مرکزاو ولایاتوکې سلګونوته رسېده ، یوشمېرله دغه خصوصي رسنیوچې ورځپاڼو جریدو او اونیزو سربېره راډیوګانې اوتلویزیوني چینلونه هم پکې شامل وو د بیان د آزادۍ ترنامه لاندې خپل سرې نشرات پیل کړل چې اکثره له دې رسنیو له بهرڅخه تمویلېدې اوددولتي سیاست چندان فروا یې نه درلوده ، ددې رسنیوترمنځ داسې رسنۍ هم وې چې خپرونې به یې له یوې مخې ددولت له سیاست سره په ټکرکې وې خومخه یې چا نشواى نیولاى ځکه دوى داسې داخلي اوبهرني مربیان درلودل چې په کنترول یې د چا زورنه رسېده ، دې خپل سریوخصوصي رسنیواکثره قومي نزاکتونوته هم لمن وهله اویا به یې په تمثیلي پارچوکې پرې ملنډې وهلې د اطلاعات فرهنګ وزارت د رسنیزو سرغړونود ادرې له توان څخه یې کنترول لوړ و، نه یوازې رسنۍ بلکې دا وخت په خصوصي مطبعو کې داسې کتابونه هم چاپ شول چې ملي وحدت ته د مارد ذهروپه شان ذهرجن ول خوکنترول یې د کومې دولتي اداري په توان کې نه و .

# د نوي میلادي کال مبارکي څه حکم لري؟

**لیکوال: قاري ارشاد الله عقابي**

اِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰه والصَّلٰوة والسَّلام علٰی رسولِ الله اما بعد!

محترمو مسلمانانو ورونو لکه څنګه چې زمونږ خوږ پیغمبر او ستر لارښود سیدنا محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم له لارښونو جوته دهٔ چې د یهودانو او عیسایانو مخالفت پکار دی. هغه صلي الله علیه السلام فرمائلي دي« مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهم » رواه أبو داود ( اللباس / ۳۵۱۲ )

هر چا چې د کوم قوم سره مشابهت وکړ د قیامت په ورځ به د هغوي سره وي . مشابهت که په لباس کې وي او که رسم و رواج کې باید د اهل کتابو مخالفت وشي.

قدرمنو ورونو د مسلمانانو د اسلامي او هجري کال پیل د محرم الحرم له مبارکې میاشتې کېږي او د ذوالحجة په میاشتې پای ته رسي او همداسې د اسلام هغهٔ فرائض او عملونه چې د ورځو او میاشتو سره تړون لري لکه فرض روژه د رمضان المبارک میاشتې سره تړون لري او حج د ذي الحجې میاشتې سره تړلی دی. وغیره

اوس که هرڅوک دغه فرض اعمال په ټاکل شویو ورځو اومیاشتو ادا نکړي نو هیڅ کله هم نه صحیح کېږي لنډه داچې زمونږ شریعت، اسلام او اعمال وغیره ټول د هجري کال سره تړون او مناسبت لري.

د میلادي (عیسوي) کال په اسلام کې هیڅ حیثیت نشته او د دې کال لمانځل او مبارکي ورکول فقط د عیسایانو رسم او هغوي سره ښکاره مشابهت دی چې په اسلام کې ناروا دی لکه څنګه چې زمونږ د مذهب اکابرو او جیدو علماء کرامو په خپلو فتاواو کې فرمایلي دي

"مسلمان دپاره هجري کال ټاکل شوی دی او همدې نه زمونږ د اسلامي تشخص اظهار کېږي میلادي کال د نصرانیانو دی او هغوي د دې په راتګ خوشحالي کوي بعضې ناپوهه مسلمانان د ناپوهۍ او جهالت له وجې خوشحالي کوي فلهٰذا مسلمانو ته پکار ده چې خپل اسلامي تشخص پرځای کولو لپاره هجري کال خپل کړي

(فتاوي حقانیه ج ۲ صفحه ۷۵)

همداسې فتاوي محمودیه کتلی شئ هغه لیکلي دي

سوال:د کافر په مذهبي رسم و رواجونو کې شرکت او مبارکي ورکول څنګه دي؟

ځواب: نا روا دي (فتاوي محمودیه ج ۲۴ صفحه۴۲۴)

د مولانا محمد یوسف لدهیانوي فتاوی هم کتلی شئ

سوال: د نوي میلادي کال مبارکي څنګه ده؟

ځواب: د نصرانیانو رسم دی او مسلمانان یې له جهالت کوي

نورو هم ګڼو کتابونو کې د نوي میلادي کال د لمانځلو نفي شوي.

محترمو مسلمانانو مونږ باید په دغه ګناه کې ځان شریک نکړو او نور ناپوهه ورونه هم خبر کړو چې یو بل ته د happy new year او همداسې نورو بېغامونو لېږلو دهٔ وکړو.

**و من الله توفیق.**

## اطلاعاتو او کلتور وزارت ...

امیر خان متقي، د اطلاعات او کلتور سرپرست وزیر ملا خیرالله خیرخوا ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر او کلتور مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي، د اولمپیک او سپورټ رییس مولوي احمد الله وثیق، دریاست الوزرا دمطبوعاتو او ستراتیژیکو اړیکو مسول قاري عبدالستار سعید پر خپل وار ګټورې وینا وکړې او د اسلامي امارت د مرکزي ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد رالېږل شوی ویډیویي پیغام د غونډې ګډونوالو ته واورول شو.

د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي ویلي، چې شاعران او ترانه ویونکي د دې نظام ویاندویان او د پالیسۍ ترجمانان دي.

نوموړي زیاته کړې؛ که مجاهد صاحب په مطبوعاتي ټکو د نظام پرمختیاوې او ټګلاره نړۍ او ولس ته وړاندې کوله، تاسې په تېرو شلو کلونو کې د شعر، ترنم او خوږې حنجرې سره له نظام څخه کلکه دفاع کړې، د جهاد داعیه مو ژوندۍ ساتلې او د ولس او لښکر جذبې مو تاندې ساتلې دي.

ښاغلي متقي ټینګار کړی؛ اوس ستاسې مسؤلیت دا دی، چې له راغلي فرصت څخه اعظمي ګټه واخلئ او ولس ته روحیه ورکړئ.

دغه‌راز پر خپلو اشعارو او ترانو کې د شخص او یوې سیمې او ولایت پر ځای ټول هېواد او نظام ته اشعار او ترانې ووایئ اوهغو اشخاصو او افرادو ته موقع مه ورکوئ، چې د خپلو خاصو جذبو په اساس ټول نظام ته په مطبوعاتي میدان کې ستونزې او کړاوونه جوړ کړي.

د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر مولوي خیرالله خیرخوا ویلي؛ له دې علمي سېمینار څخه یې اساسي موخه، د هېواد د شاعرانو او ترانه ویوونکو منسجم کول او د هغوی له استعدادونو څخه د ټولنې د اصلاح او د هېواد د ساتلو په موخه ګټه اخیستل دي.

نوموړي زیاته کړې، چې له شعرونو څخه باید یوازې او یوازې د ټولنې د اصلاح لپاره ګټه واخیستل شي.

ښاغلي خیرخوا دوه ورځینی سمینار مثبت ارزولی او ویل شوي مقالې او ویناوې یې موثرې بللې.

دغه‌راز د غونډې د برخوالو راټول شوي نظرونه او مشورې یې مهمې بللې او هیله‌مندي یې ښودلې، چې له مثبتو نظرونو اواستعدادونو څخه به یې ګټه واخلي.

د یادولو وړ ده، چې د مشهورو ترانه ویونکي او شاعرانو په ویاړ یاد علمي او فرهنګي دوه ورځنی سمینار کابل کې جوړ شوی و، چې د هېواد د ټولو ولایتونو څخه راغلي شاعرانو او ترانه ویونکو ګډون پکې کړی وو، چې د ستاینلیکونو په ورکولو سره وستایل شول.

## اعضای کمیته تطبیق و نظارت از تعهدات ...

تشکیل شده است از بندر اسلام قلعه در هرات و بندر دوغارون در ولایت خراسان رضوی ایران دیدن کردند

انجینرعتیق الله مسلم رئیس حفاظه نباتات و قرنطین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری که درترکیب هیئت حضور دارد در جریان بازدید از بندر اسلام قلعه و دوغارون مشکلاتی که در سکتور زراعت و صادرات و واردات محصولات زراعتی وجود دارد، بیان کرده و از مسوولان مرزی ایران خواستار توجه در کنترول محصولات زراعتی صادراتی شد.

مسوولان مرزی دوغارون ایران اطمینان به حل این مشکلات دادند.

## پانزده ساحه دیگرباستانی در جوزجان ...

بعضی از ساحات جوزجان، ۱۵ ساحه دیگر باستانی و تاریخی را ثبیت و ثبت کردند، این ساحه های باستانی در ولسوالی‌های فیض آباد، خواجه دوکوه و شهر شبرغان شناسایی شده است. هیئت فنی درجریان بررسی شان ۸ اثر تاریخی شامل ظروف سفالی، مهره و یک ضرب سکۀ مسی را به دست آورده و بعد از ثبت و سجل به مسوولان ریاست اطلاعات و فرهنگ جوزجان تسلیم دادند.

رییس باستان شناسی خاطرنشان کرد که به اساس مطالعات ابتدایی آثار به دست آمده مربوط قرن‌های ۲ تا ۱۳ میلادی می شود.

همچنان هیئت ریاست باستان شناسی، در نشست با حضور مسوولان ریاست اطلاعات و فرهنگ، شماری از مسوولان و نمایندگان نهاد های ملکی و نظامی و متنفذین جوزجان، در رابطه به ارزش ساحات باستانی و فرمان رهبری امارت اسلامی افغانستان مبنی بر حفاظت ازمیراث‌های فرهنگی درکشور صحبت کرد و خواهان همکاری آنان در زمینه حفاظت ساحات و مکان های باستانی شد.ند

## روان کال کې نږدې ۵۰ سلنه اورښتونه ...

ورته مهال د کابل ښار یو شمېر اوسېدونکي، د کال په دې ورځو کې د باران او واورې له نه ورښته اندېښنه څرګندوي. د ورښتونو کموالي له امله د کابل ښار سربېره په هرات، غور، فاریاب او یو شمېر نورو ولایتونو کې د باران او واورې د اورښت دعاګانې او استسقا لمونځونه هم شوي دي.

## لوګر ته د لوړ رتبه چارواکو ...

د دغه وزارت ولایتي مسولینو سره لیدلي او یو لړ لارښوونې او سپارښتنې یې ورته کړې دي.

خلیل الرحمن حقاني د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ولایتي ادارې ته لارښوونه کړې چې د نویو راغلیو لوستو ځوانانو لېست ترتیب او پر بستونو د ګمارلو په موخه یې وزارت ته واستوي.

نوموړي داډ ورکړی، چې هڅه کوي د کډوالو او بېرته راستنېدونکو هېوادوالو ستونزو ته رسېدنه وکړي.

## معین مسلکی وزارت اقتصاد بر تقویت ...

در این دیدار معین مسلکی وزارت اقتصاد، در رابطه به برنامه های طولانی مدت اقتصادی معلومات دادو بر تقویت بخش خصوصی و تطبیق برنامه های انکشافی درهرات، تاکید کرد

شیخ الحدیث مولانا نوراحمد اسلام جار والی هرات، در رابطه به پروژه های اقتصادی آن ولایت، وضعیت زلزله زده ها و مهاجرین معلومات داد و گفت: تمام تلاش شان را در زمینه رسیدگی به خواست های بزرگان اهل تشیع به خرج می دهند.

همچنان در این نشست ملاعبدالقدیر حاجی ناصر رئیس اقتصاد هرات، در رابطه به برنامه های انکشافی، اقتصادی و اجتماعی معلومات دادند.

## تغییرات اقلیمی و خشک سالی عامل اصلی بیجا شدن ...

نیشنان به شهر هرات شده است.

والی هرات بیان داشت که در حال حاضر تنها مشکلی که مردم به آن مواجه اند مشکل اقتصادی است.

در همین حال معاون نماینده کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهندگان گفته است که برنامه های همکاری آنان در این شرایط بیشتر شده است و همچنان به عودت کنندگان و نیازمندان دیگر کمگ خواهند کرد.

## تطبیق ده پروژه ی توسعه یی ...

قاری گل حیدرشفق والی جوزجان درمراسم گشایش کار کانکریت ریزی یک جاده در آن ولایت گفت: امارت اسلامی درتلاش است تا با تطبیق پروژه های توسعه یی، برای مردم رفاه و پیشرفت اقتصادی به بارآورد.

مولوی حبیب الله قانع، شاروال شبرغان به آژانس باخترگفت که درجریان دوسال، ده پروژه ی توسعه یی را تطبیق کرده اند.

این پروژه ها پنجاه ملیون افغانی برای این شاروالی، هزینه داشته است.

# روغه جوړه؛ اسلامي امارت د پخلاینې غوره درېیمګړی دی

**تبصره**

وروسته ترهغې چې د ۲۰۲۱ زېږدیز کال د اګست پر ۱۵ مه اسلامي امارت پر هېواد واکمن شو، نو په اکثریتو سیمو کې هغه کورنۍ، قومي او فردي شخړې هوارې او د ښکېلو ترمنځ یې جوړجاړی شوی.

دغه شخړې چې ځینې یې ان لسګونو کلونو ته رسېدلې او له ښکېلو لوریو په کې کسان هم وژل شوي، اکثریت یې د اسلامي امارت له لوري حل او دواړه لوري دېته قانع شوي، چې یو بل سره کښېني او غاړه ورکړي.

لومړیو کې انګېرنه دا وه، چې ګواکې د اسلامي امارت په واکمنۍ کې به د افغانانو ترمنځ کورنۍ، قومي او فردي شخړې او دښمنۍ زیاتې او یو بل ناورین به رامنځته شي، خو دغه ټولې وړاندوینې غلطې ثابتې شوې او برعکس حکومت وکولی شول، چې نه یوازې د دغو شخړو او دښمنیو رامنځته کېدو څخه مخنیوی وکړي؛ بلکې د پخوانیو هغو د له منځه وړلو د هڅو په پایله کې یې تر دا مهاله په بېلابېلو ولایتونو کې سلګونه دغه دښمنۍ حل او فصل کړې دي.

په افغاني ټولنه کې شخصي او کورنۍ ستونزې او دښمنۍ له ډېر پخوا موجودې دي خو تېرو حکومتونو د دغې ستونزې د حل لپاره یا خو بېخي کار نه کاوه او یا خو یې نه شو کولی.

دا چې اسلامي امارت په دغې چاره کې څنګه بریالی دی، دوه عمده دلیله دي:

یو دا چې اسلامي امارت په هېواد کې د ټولو ستونزو حل غواړي او د شخصي دښمنیو ستونزو ته هم د ټولنې د ستونزې په سترګه ګوري او د حل لپاره یې کار اړین بللی او د دغې پروسې د بریالی کولو اراده لري.

بل دا چې اسلامي امارت د ولس له منځه راپورته شوی نظام دی او د خپلو خلکو په ژبه ښه پوهېږي، د کوم بهرني هېواد تر تاثیر لاندې نه دی او د چارواکو کورونه یې هم د خلیجي هېوادونو د سواحلو په غاړه او یا هم د اروپا په رنګینو کې نه دي، نو ځکه توانېدلي، چې افغانستان کې د نورو ستونزو د حل ترڅنګ د دښمنیو په له منځه وړلو کې هم ګټور تمام شي.

# کونړ کې د جنايي جرمونو سره د مبارزې مدیریت له لوري ۱۸۱ پېښې برسي شوې دي

د کونړ امنیه قومندانۍ مطبوعاتي دفتر مسول باختراژانس ته ویلي، د دغې قومندانۍ جنايي مدیریت په تېرو شپږو میاشتو کې په مرکز اسعداباد او ولسوالیو کې بېلا بېلې ۱۸۱ قضیې برسي کړي او په کې ښکېل ۴۷۱ تنه د ښه عدالت د تامین لپاره عدلي ادارو ته معرفي شوي، ترڅو قانون پلی او د جرمونو کچه راټیټه شي.

جنايي مدیر مولوي فضل الحق هلال وایي عدلي ادارو ته په ورپېژندل شویو کسانو کې قاتلین، غله، د نشه یي توکو پلورونکي او بېلابېلو نورو جرمونو کې لاس لرونکي شامل دي.

هلال زیاتوي، چې پولیسو پر مجرمینو ساحه راتنګه کړې او هر هغه څوک چې ناوړه کړه وړه ترسره کړي، قانوني چلند ورسره کېږي.

د هلال په خبره دغه ولایت کې جنايي جرمونو ته د رسېدنې په برخه کې یې د واسطو او فساد مخه نیولې او هڅه کوي، چې دغې برخه کې لا ډېر کار وکړي.

# فاریاب کې د ۲۰ میلیونو افغانیو په لګښت یو چوک جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د فاریاب ځایي مسوولین وایي، چې د یاد ولایت په اندخوی ولسوالۍ کې د یما پټرولیم شرکت له لوري د ۲۰ میلیونه افغانیو په لګښت یو چوک جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.

د یما پټرولیم شرکت رییس سید عبدالکریم آغا وویل، چې یاد ولایت د اندخوی ښاروالۍ ریاست په همکارۍ د ۲۰ میلیونه افغانیو په لګښت یو چوک په معیاري او استاندرد توګه جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارلی دی.

د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت د اندخوی ولسوالۍ او آقینه بندر په لاره کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په لګښت د سخي زاده په نوم د یو بل چوک د رغولو چارې پیل او په ۴ میاشتو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

# پنج شبکه آبرسانی در سرپل ساخته شد



سرپرست وزارت احیا و انکشاف دهات، پنج شبکه آب رسانی را در سرپل افتتاح کرد

دفتر مطبوعاتی وزارت احیا و انکشاف دهات دیروز با نشر این خبر گفته است :پنج شبکه آبرسانی که از سوی وزارت احیا و انکشاف دهات در مربوطات ولایت سرپل ساخته شده است ازسوی ملا محمد یونس آخندزاده سرپرست آن وزارت افتتاح شد.با تکمیل کار این شبکه های آبرسانی (۱۱۵۰) خانواده درمرکز و ولسوالی کوهستانات سرپل به آب آشامیدنی صحی دسترسی پیدا کردند.

وزارت احیا و انکشاف دهات برای اتمام این پروژه ۱۷ میلیون افغانی هزینه کرده است.

## هیڅ ډلی ته د جګړې جواز نه ...

وکړي، نه دا چې باروتو او مقناطیسي بمونو ته لاس واچوي. پاتې شول ځینې هغه شعارونه چې د پخواني رژیم لویانو به تکرارول لکه د ښځو حقونه، ترهګرۍ سره مبارزه، جمهوریت، اساسي قانون، د واشنګټن او لندن ژغورنه او داسې نورې اوتې بوتې چې کله به یې سرې کرښې بللې او کله به له سرونو هم ورته تېرول، نو دا دی بیا هم ټول ملت ولیدل چې حقیقت یې څه ؤ؟ ځکه واقعیت دا دی چې دا شعارونه کاملاً پردي، تحمیلي او له ملي ارادې سره یو مخ په ټکر کې وو. بنا پر دې اوس رښتیا هم هغه وخت را رسېدلی چې نه حکومت په خپل هېواد کې کوم شخص یا ډلې ته د جګړې پلمه او جواز په لاس ورکړي او نه سیاستوال د خپلو ځاني غرضونو یا له پر دیو نه د مال؛ دولت ګټلو په هوس له ناجایزو لارو د خپل ولس بې وزله عوام جګړې ته ولمسوي. راځئ له همدې غوره فرصته پوره پوره ګټه واخلو، داسې فرصت چې نه اشغال وی، نه الحاد او نه فساد، تر ټولو ښه او مناسبه موقع ده. د وطن د آبادۍ داسې وختونه کله کله ترلاسه کېدی شي.

## این وزارت در حال رسیدن به اهداف تعیین ...

رفته است که معاون سیاسی ریاست الوزرا با مولوی حسام‌الدین صابری، رئیس اصلاحات کادری، تشکیلات و بازنگری ریاست عمومی اداره امور و ملا ولی جان حمزه، قومندان امنیه کابل نیز دیدار داشته است و روی مسایل کاری با آنان بحث کرده است.

مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا ضمن این که از تلاش‌های مسوولان یادشده قدردانی کرد، گفت: یکی از اهداف امارت اسلامی، بازسازی کشور است و مقام ها و مسوولان حکومتی وظایف شان را به گونه یی بهتر مدیریت کرده‌اند تا امارت اسلامی بتواند برای مردم خدمات بهتری ارائه کند.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Wednesday 03 January 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 350

# لوګر ته د لوړ رتبه چارواکو سفر

د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت سرپرست مولوي ندامحمد ندیم لوګر ولایت ته د سفر په ترځ کې د دغه ولایت د لوړو زده کړو موسسې له مسولینو، استادانو او محصلینو سره کتلي او پر اړوندو مسایلو یې خبرې کړې دي.

غونډه کې د لوګر د لوړو زده کړو موسسې رییس ډاکتر شفیق الله د خپلو لاسته راوړنو او ستونزو په اړه له کابله ورغلیو چارواکو ته



معلومات ورکړي او غوښتنه یې کړې، چې ستونزو ته یې رسېدنه وکړي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر مولوي ندامحمد ندیم د لوګر د لوړو زده کړو موسسې د فعالیتونو ستاینه کړې او ډاډ یې ورکړی، چې شته ستونزو ته به یې رسېدنه وکړي.

دغه راز د اسلامي امارت د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست یاد ولایت ته د سفر په ترځ کې ... ۵مخ

## معین مسلکی وزارت اقتصاد بر تقویت بخش خصوصی درهرات، تاکید کرد



داکترعبداللطیف نظری معین مسلکی و تخنیکی وزارت اقتصاد، در نشستی با شیخ الحدیث مولانا نور احمد اسلام جار والی هرات و شماری از علمای اهل تشیع این ولایت در رابطه به برنامه های اقتصادی امارت اسلامی صحبت کرد.

به گزارش آژانس باختر؛ ص۵

### والی هرات؛
## تغییرات اقلیمی و خشک سالی عامل اصلی بیجا شدن باشندگان روستا ها به شهر شده است



شیخ الحدیث مولانا اسلام جار والی هرات در دیدار بامعاون نماینده کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهندگان در افغانستان از ادامه اخراج مهاجران افغان از کشور های همسایه ابراز نگرانی کرده است و یاد آور شده است: اخراج مهاجرین از کشورهای همسایه آنهم در فصل سرما اخراج شدگان را با مشکلات دچار کرده است.

در این دیدار والی هرات همچنان می گوید که تغییرات اقلیمی و خشک سالی سبب جا شدن گسترده روستا ... ص۵

## تطبیق ده پروژه ی توسعه یی درجوزجان

مسوولان درشاروالی شبرغان، ازتطبیق ده پروژه ی توسعه یی در دو سال پسین در جوزجان خبردادند.

این پروژه ها ازجمله ساخت وکانکریت ریزی جاده های داخل شهر، ساخت تاسیسات شفاخانه ی دوصد بستر مرکزی خوانده شده است. ص۵



## د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د جګړه ییزو ګډو زده کړو له قوماندانۍ څخه لسګونه منسوبین فارغ شول



د ملي دفاع وزارت د بېلابېلو قطعاتو او جزوتامونو ۵۶ تنه ځوان منسوبین د تعلیماتو او پرسونل معاونیت اړوند د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د جګړه ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ د بېلابېلو څانګو له دوه میاشتنیو مسلکي زده کړو څخه وروسته پرون د یوې غونډې په ترځ کې فارغ شول.

مسؤلینو په یاده غونډه کې فارغانو ته د مبارکۍ ترڅنګ لازمي لارښوونې وکړې او زیاته یې کړه، چې په ټولو شرعي امورو کې د خپلو امیرانو پوره اطاعت وکړي او دنده د الله ج د رضا او اسلامي نظام ته د ښه خدمت په موخه ترسره کړي.

په ورته وخت کې تازه فارغ شویو سرتېرو د اسلامي نظام څخه د ساتنې او دفاع په موخه د هېواد په هر ګوټ کې خدمت کولو ته چمتووالي وښود او ژمنه یې وکړه، چې په هر ډول شرایطو کې به ورسپارل شوي مسوولیتونه په ښه توګه تر سره کوي.

## په کونړ کې له یو شمېر ښوونځیو سره د درسي کتابونو مرسته وشوه

د کونړ د پوهنې ریاست مسوولینو د یاد ریاست له خوا یو شمېر ښوونځیو ته د درسي کتابونو د مرستې خبر ورکړی دی.

د کونړ د پوهنې رییس مولوي محب الله حیدري د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل چې د دغه ولایت یو شمېر ښوونځیو لپاره ۸۲۵ زره ۳۷۷ ټوکه درسي کتابونه وېشل شوي دي.

هغه زیاته کړه چې په یاد ولایت کې د درسي کتابونو نشتون یوه لویه ستونزه وه چې د اسلامي امارت په راتګ سره حل شوې ده.

ورته مهال د کونړ مرستیال والي مولوي عبدالله حقاني د ښوونځیو د پیاوړتیا لپاره د کتابونو او نورو درسي توکو شتون مهم وباله او په یاده برخه کې یې د پوهنې ریاست په لا زیاتو هڅو ټینګار وکړ.

## سرپل کې د ۶ چک ډېمونو د رغولو چارې پیل شوې

د هېواد د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په سرپل کې د ۳۷ میلیونو افغانیو په لګښت د ۶ چک ډېمونو د رغولو د چارو خبر ورکړی دی.

د هېواد د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت سرپرست مولوي محمد یونس آخند زاده په سرپل ولایت کې د یادو چک ډېمونو د رغولو د پیل پر مهال وویل: «اسلامي امارت هوډ لري، چې په هېواد کې پراختیایي او ټولګټې پروژې پلي کړي».



ورته مهال د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو شرکت رییس انجنیر اسدالله عمار وویل، چې دغه چک ډېمونه ۱۰۶ متره اوږدوالی، ۵ متره لوړوالی لري او ۴۰ زره متره مکعبه اوبه زېرمه کولی شي، چې چارې به یې په ۲ نیمو میاشتو کې بشپړې شي.

د یادونې وړده، چې د اسلامي امارت د پرېکړې له مخې به د ۳۴ ولایتونو په ۴۲۰ ولسوالیو چک ډېمونه جوړ شي.

# رویدادهای خارجی

## نا آرامی ها در فرانسه، ده ها پولیس در شب اول سال نوعیسوی زخمی شدند

ده ها پولیس در فرانسه در ناآرامی های شب اول سال نو عیسوی در آنکشور زخمی شدند و ۷۵۰ موتر به آتش کشیده شد.

جریان های مختلف سیاسی در فرانسه که مخالف سیاست های حکومت آنکشور در عرصه های گونه گون، منجمله برنامه های اقتصادی اند همیشه در ایام مذهبی و روز های خاص در برابر دولت مکرون قدرت نمایی می کنند.

جرالد دارونین؛ وزیر داخله فرانسه باآنکه اعلام کرده است که در پی ناآرامی‌های شب نخست سال ۲۰۲۴ دست‌کم ۴۰ افسر پولیس زخمی شده و ۷۵۰ موتر به آتش کشیده شده‌اند. اما او خشونت ها در سالجاری را کمتر از سال گذشته میداند و نسبت به بهبود وضعیت خوشحال است.

پولیس فرانسه ۳۸۰ تن را در پیوند به ناآرامی های شب سال نو بازداشت کرده است.

وزیر داخله فرانسه درروز جمعه گذشته اعلام کرده بود که بیش از ۹۰ هزار پولیس برای تامین امنیت مردم در شب سال نو میلادی در بخش‌های مختلف این کشور گماشته شده‌اند.

این در حالی است که پیش از این، مقام‌های فرانسوی نا آرامی ها در آنکشور را، رشد «افراط‌گرایی اسلامی» نام میدهند در حالی که مسلمانان در فرانسه هیچ پیوندی به آرامی های اخیر در آنکشور ندارند و بیشر جریان های افراطی راست گرا که منتقد نظام و حضور مهاجران اند خشونت خلق می کنند.

### صهیونیستي ظلمونه؛
## د اسرائیلو په یو زندان کې د مړو شویو فلسطینیانو شمېر ۷ تنو ته ورسېد

د الجزیرې خبري شبکې د راپورو پر اساس د تېر زیږدیز کال د اوکتوبر له اوومې نېټې راهیسې د اسرائیلو یواځې په یو زندان کې د مړو شویو/ وژل شویو شمېر ۷ تنو ته ورسېد.

وروستی هغه یې ویل کېږي، پرون وژل شوی او فلسطیني ډلو ویلي، چې دغه اسیر ترور شوی دی.

د اسیرانو د هویت په اړه معلومات نه شته او ویل کېږي دغه اسیران تر ډېره د شکنجې، ناروغیو ته د نه رسېدو او کافي اندازه خوړو د نه شتون له امله مړه او یا هم وژل شوي دي.

په ورته مهال د غزې په بېلابېلو برخو کې د صهیونستي پوځیانو او حماس غورځنګ ترمنځ جګړې رواني دي او د اسرائیلو د هوایي بریدونو له امله تېرو ۲۴ ساعتونو کې ګڼ شمېر ملکي وګړي وژل شوي او یا هم ټپیان شوي دي.

## د غزې یو شمېر بې دفاع اوسېدونکو ژوبڼ کې زمریانو ته پناه وروړې



د رویترز خبري اژانس د خبر له مخې د غزې رفاح ښارګوټي یو ژوبڼ د صهیونستي پوځ د ظلمونو له امله د بې ځایه شویو فلسطینیانو پر پنډغالي بدل شوی دی. دغه ژوبڼ کې یو شمېر زمریان او بیزوګان شتون لري، چې د مسولینو په خبره اوس مهال له سختې لوږې سره مخ دي او ان ځینو هغو د لوږې له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی.

د ژوبڼ یو ساتونکي احمد زیاته کړې، چې اوس مهال دغه حیوانات یواځې د وچې ډوډۍ پر مټ ژوندي ساتو او د کافي اندازه ځانګړو خوړو نشتون له سختې کمزورۍ سره مخ کړي. دغه ژوبڼ کې مېشتو بېځایه شویو غزه والو رویترز ته ویلي، چې د اسرایلو د بمباریو له وېرې په ژوبڼ کې زمریانو او نورو حیواناتو سره په ګډه ژوند کې د امن احساس کوي.

توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!